PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت پنځم کال، ۱۷ مه گڼه، پرله پسې ۲۱۲ مه گڼه   چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د چنگاښ ۲۲ مه   د۱۴۳۴ هـ ق د رمضان المبارک ۸ مه   د۲۰۱۳ م د جولای ۱۷ مه

درس قرآن

روژه هغه میاشت ده چې په دې کې هغه قرآن نازل شوي دی چې د خلکو لپاره لارښود او د لارښوونې او د حق او باطل ترمنځ د جلاوالي ځرگند دلایل دي. نو ځوک چې له تاسې ځخه دا میاشت ومومي، نو روژه دې ونیسي. او ځوک چې ناروغ یا پر سفر وي نو شمیر دي له نورو ورځو ځخه پوره کړي. الله پاک ستاسې لپاره آسانتیا غواړي نه سختي. (البقره: ۱۸۵)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که رمضان را از روی ایمان و اخلاص روزه گیرد، گناه گذشته اش آمرزیده می شود.

(ریاض الصالحین)

خـــرم:

امریکا تر اوسه د امنیت او خپلو مرستو ضمانت نه دی کړی

ترځو چې په گاونډیو هېوادونو کې د ترهگرو خالي له منځه ولاړې نه° شي او د هېواد په سرحدي سیمو، راکټي حملې بندې نه شي، له امریکا سره د امنیتي سند لاسلیک هیڅ معنی نه لري.

امریکا باید ددغې سند د لاسلیک په مقابل کې افغانستان ته داډ ورکړي چې امنیت به یې خوندي او د گاونډیو هېوادونو د لاسوهنو ځخه به په امان کې وي.

کابل، رسنۍ:
جمهوري ریاست وایي، چې امریکا تراوسه له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د امنیت د ټینگښت او له دې هېواد سره د مالي مرستو ضمانت نه دی کړی.

پاتې ۴ مخ

جرگهٔ عنعنوی برای حل مشکلات موجود باید دایر شود

کابل، رسانه ها:
برخی اعضای مشرانوجرگه میگویند که باید یک جرگهٔ عنعنوی برای حل مشکلات موجوده ایجاد گردد؛ اما شماری از آنها دایر شدن همچو جرگه را خلاف قانون میدانند.

چندی قبل رییس جمهور کرزی گفته بود که خواهان نظر مردم، از راه جرگه در مورد قرارداد امنیتی میان افغانستان و امریکا است.

اما با این نظر وی، شماری از اعضای ولسی جرگه و احزاب سیاسی مخالفت کرده بودند و می گفتند که بدون لویه جرگه، جرگهٔ دیگری در قانون ذکر نشده است و همچو جرگه ها شکل قانونی ندارند.

لویه جرگه در مادهٔ ۱۱۰ قانون اساسی، مظهر بزرگ ارادهٔ مردم افغانستان گفته شده است؛ در این ماده افزوده شده که لویه جرگه، از اعضای شورای ملی و از رؤسای جرگه های ولایات و ولسوالی ها تشکیل میشود.

به اساس این ماده؛ وزرا، اعضا و رییس ستره محکمه نیز میتوانند بدون اینکه حق رای دهی را داشته باشند،

بقیه در صفحه ۴

چرا قیمت دالر بطور بی سابقه در مقابل افغانی بلند رفته است؟

کابل، رسانه ها:
شماری از باشنده های شهر کابل از افزایش قیمت دالر در برابر پول افغانی ابراز نگرانی کرده، می گویند که این کار سبب بلند رفتن قیمت مواد خوراکه شده است.

طی روز های اخیر پائین آمدن ارزش پول افغانی در برابر دالر بسیاری از باشنده گان کابل را نگران ساخته است.

آنان می گویند که این نخستین بار است که ارزش دالر به این پیمان بلند رفته است.

به روز سه شنبه یک دالر امریکایی در بازارهای شهر کابل...

بقیه در صفحه ۴

اتحادیه استادان پوهنتون ها:
کمیته مستقل کانکور ایجاد شود

کابل، رسانه ها:
در حالی که وزارت تحصیلات عالی به تازه گی طرحي را جهت حل معضل پروسه کانکور تهیه کرده، اتحادیهء استادان پوهنتون های افغانستان خواهان ایجاد کمیته مستقل کانکور شده اند. اعضای این اتحادیه در نشستي به روز سه شنبه در کابل گفتند که این طرح نمي تواند جهت رفع مشکلات در پروسه کانکور موثر واقع گردد.

آنان با انتقاد از کار کرد های وزارت تحصیلات عالی، می گویند که برای جلوگیری از بروز مشکلات در امتحان کانکور سال های آینده، باید راه حل معقول جستجو گردد.

نجیب الله امرخیل یکی از اعضای این اتحادیه گفت: "پیشنهاد ما این است که کمیته مستقل و ملی کانکور به سطح کشور ایجاد گردد و قوانین که به نفع افغانستان است از سوی این کمیته مطرح گردد مانند کمیته فعلی زیر اثر وزارت تحصیلات عالی نباشد. وزارت تحصیلات عالی در حال حاضر به وزارت اخذ کانکور مبدل شده است بجز همین کاری دیگری ندارد. ما روی ایجاد کمیته مستقل کانکور...

بقیه در صفحه ۴

قاسمیار:

تر هغو د سولې خبرې نه شي کېدای چې طالبان جگړه بس نه کړي

ډيلي ټيلگراف ورځپاڼې د سولې د عالي شورا د بهرنيو اړيکو د مشر اسماعيل قاسميار دا ځرگندونې د افغانستان د سولې بهير ته یو لوی گوزار بللي دي

کابل، رسنۍ:
د ډيلي ټيلگراف ورځپاڼې د راپور له مخې د افغانستان د ولسمشر حامد کرزي د سولې د خبرو سرمرکچي وايي، په قطر کې د افغانستان د سولې دربدلي خبرې تر هغو نه شي پېلېدای چې طالبانو له تروریستي هلوځلو لاس نه وي اخیستی.

ډيلي ټيلگراف ورځپاڼې د سولې د عالي شورا د بهرنيو اړيکو د مشر اسماعيل قاسمیار دا ځرگندونې د افغانستان د سولې بهیر ته یو لوی گوزار بللي دي.

که څه هم دې ورځپاڼې شاغلی قاسمیار د ولسمشر کرزي د سولې د بهیر مهم سرمرکچي بللی دی خو د ثالثانو له مالوماتو سره سم د نوموړي خبرې حتی د سولې په شورا کې هم ډېر اوریدونکي نه لري.

قاسمیار د طالبانو په اړه ووېل: "دوی بېگناه خلک وژني...

پاتې ۴ مخ

دبن جریان، ولې له ناکامۍ بدنامۍ سره مخ شو؟

ف، فایض

امریکا د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر له پېښو نه کلونه دمخه افغانستان ته د راتلو پلان درلود، که څه هم د یاد کال د سپتمبر پر یوولسمه پر نیویارک او واشنگټن د حملو درامه راوړاندې کړای شوه چې په ډېر سرعت سره یې پړه د القاعده او اسامه بن لادن پر غاړه ورواچول شوه؛ خو که څېړې امریکا په اصطلاح دا بزرگي درلودای، بیایې ولې ددې پېښو مخه، نه نیوله؟ هغه چا چې په دې اړه یې پرې څېړنې کړي دي، دې نتیجې ته رسیدلي دي چې دا پخپله د امریکا کار و؛ ځکه امریکا دې ته اړتیا درلوده چې افغانستان ته راشي او دا راتگ لادمخه پلان شوی و؛ خو دې راتگ یوه پلمه غوښته، پلمه دا شوه چې ...

پاتې دویم مخ

از وسایل برقی دورتر بخوابید!

کابل، پژواک:
خواب کردن نزدیک وسایلی که در آن برق جریان داشته باشد، سبب ضعف حافظه، عصبانیت، کسالت و پایین آمدن مقاومت وجود در برابر امراض ساری می شود.

این مطلب را داکتر فیض الله کاکړ متخصص امراض روانی و مشاور صحی رییس جمهور، در مصاحبهٔ اختصاصی با آژانس خبری پژواک بیان کرد.

به گفتهٔ وی، ایجاب می کند وسایل برقی چون لین برق، تلویزیون، رادیو، تیلیفون موبایل و غیره که در آن برق جریان داشته باشد، حداقل

بقیه در صفحه ۴

زموږ د پیاوړتیا راز

(محمد خلیل) - صفحه دوم

د تاپي له پروژې به افغانستان ۵۰۰ میلیونه ډالر هر کال تر لاسه کوي

کابل، رسنۍ:
د افغانستان او ترکمنستان د گازو د پروژې جزییات ځپاره شول. تیره اونۍ د ترکمنستان په مرکز عشق اباد کې د افغانستان د معدنونو وزیر د ترکمنستان د گازو له کمپنۍ سره د (تاپي) د گازو د نللیکې په اړه یو تړون لاسلیک کړ.

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د امنیتي تړون او د ښکار د تلک ترمنځ دې توپیر وشي

مور افغانانو د تېرو دولسو کلو په موده کې ولیدل چې امریکا او ملګرو یې په افغانستان کې صرف او صرف خپلې ګټې او موخې پرمخ ویوړې، افغانانو چې کومه تمه او توقع تر ېنه درلوده پنځه فیصده یې هم ترسره نه کړه، د افغانانو ستره غوښتنه چې پخپل هېواد کې د جګړو اور مړ کول او اقتصادي حالت ښه کول و، بالکل پوره نه شو. بهرني لاسوهنې لاپسې تندې او تیزی شوې، د افغانستان په ګوټ ګوټ کې ځانمرګي او موټر بمي چاودنې خپل آخري کچې ته ورسېدلې، د سړک تر غاړې د ماینونو چاودنې خو له حسابه وتلي دي. له هېواده دباندې کډوالو لپاره چې په ګاونډیو هېوادو کې د لوږی تندې او سلګونو نورو کړاوونو سره لاس او ګریوان دي نه یواځې دهغوی د راستنېدو لپاره آبرومندانه لاره پیدا نه شوه، بلکې په زرګونه نور افغانان هم په هېواد کې دننه او باندې کډې کولو ته اړ شول. لنډه یې دا چې د یو څو منظور نظر اشخاصو پرته نورو افغانانو د امریکا او ناټو ځواکونو په شتون کې له مادي او معنوي تاوان پرته هېڅ ترلاسه نه کړ. د بهرنیو ځواکونو په شتون کې سیمه ییز جنګ سالاران نور هم څاربه شول د ژبني او قومي تعصبونو جرړې نورې هم مضبوطې شولې، د ظلم تیري، غصب او رشوت کلتور وده ومونده، فسق، فجور، عیاشي، شراب او د هیروینو استعمال تر آخري کچې ورسېد، افغانان عملاً څو مافییایي کړیو رحم او کرم ته پرېښودل شول، د دولت سرمایه او بیت المال د ګوتو په شمار څو مشخصو کسانو په واک کې ورکړی شو او د عدل او انصاف نوم او نښه خو په دوربین کې هم چاته نه ښکاري.

اوس د خپل حضور دوه لس کاله وروسته چې افغانستان یې په مادي او معنوي ډګر کې ښه کنګال کړې او د مرګ او ژوند ترمنځ په کوما حالت کې قرار لري د امنیتي تړون تر عنوان لاندې تر یوې نامعلومې مودې پورې په افغانستان کې د پاتې کېدو تابیه کړې او په ډېر غرور پر افغانانو فشار راوړي چې که تاسې زموږ د شرایطو مطابق امنیتي تړون لاسلیکولو ته غاړه نه ږدئ نو موږ هم په افغانستان کې د پاتې کېدو هېڅ شوق نه لرو، کېدای شي ځینې هغه کړی چې پنځه واړه ګوتې یې په غوړو کې دي او د افغانستان د هر څه مالکان ګرځېدلي دي له امریکایانو سره په پټو سترګو د امنیتي تړون د لاسلیکولو لپاره لیواله وي، خو د افغانستان نور جنګ ځپلی او دردېدلی وګړي چې په تېرو دولسو کلونو کې له مرګونو، اختطافونو، درغلیو، رشوتونو، فحاشیو، لوږو تندو او ویرو ترهو پرته بل څه نه دي لیدلي، دغو څو بې ضمیره شخصي ګټو لیونیانو ته د افغانانو او د افغانستان د خاورې په سر سودا کولو ته اجازه نه ورکوي، د افغانانو قاطع غوښتنه داده چې حکومتي چارواکي دې د ځینو ناګزیرو وجوهاتو له کبله چې بله چاره یې نه وي له امریکا سره امنیتي سند تړون په داسې شرایطو لاسلیک کړي چې خپلې ټولې ګټې یې چې د افغانستان زمکنی بشپړتیا، خپلواکي، امنیت، غښتلي اقتصاد او خپل اسلامي نظام پکې بنیادي شرطونه دې خوندي او د متقابله احترام او ګټو اصول پکې په نظر کې په بشپړ ډول نیول شوې وي، نه داسې چې افغانانو ته د امنیتي تړون تر جادویي عنوان لاندې د ښکار تلک واچول شي، سرونه دې د افغانانو قرباني کېږي او ګټې دې امریکایان په جُولیو کې اچوي او بیا افغانستان په داسې حالت کې تخلیه کړي چې له غوښې او هډوکی سره یې له ستونې تېر او د ژوندي پاتې کېدو ټول وسایل یې ترینه تروړلي وي.

د بن جریان، ولې له ناکامی او بدنامی سره مخ شو؟

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... پر نیویارک او واشنګټن له ډېرې نوې او دقیقې تکنالوژی نه په کار اخستنی سره مصنوعي بریدونه وشي او بیایې پړه پر اسامه بن لادن ورواچول شي، هغه اسامه چې په افغانستان کې د طالبانو په میلمه توب کې ژوند کوي، امریکا اسامه وغوښت او طالبانو چې له وهلو ټکولو پرته یې د سیاست له دنیا نه هېڅ اطلاع نه لرله، دهغه پر نه سپارلو ټینګار وکړ او په دې برخه کې یې له امریکا سره دلیل او دلایل ویل پیل کړل، هغوی خوارکیان نه پوهېدل چې ددوی عمر نور پای ته رسیدلی او امریکا ورته پلمه جوړه کړې؛ نو ځکه هغوی غوښتل د یوه ډېر باثباته او قانوني حکومت په بڼه له امریکا سره تعامل وکړي.

پر خپل دریځ د طالبانو ټینګار، امریکا ته یوه بله بهانه هم په لاس ورکړه هغه بهانه چې افغانستان ته یې د امریکا د راتګ عملیه چټکه کوله. د ۲۰۰۱ د اکتوبر اوومه وه چې امریکا د طالبانو د رانسکورولو په پلمه، افغانستان ته د خپل راتګ له پاره پر دې جنګ ځپلي هېواد خپل هوایي او توغندویي بریدونه پیل کړل او دغسې یې خپل پیاده پوځ ته د راتګ لاره پرانسته، د طالبانو د واکمنی ټغر په میاشت کې دننه دننه ټول کړای شو او په کابل پسې کندهار هم سقوط وکړ. د کابل سقوط، د شمال قوتونو ته چې اوس ځانته ((مقاومت)) وایي او د یوه مخکنی توافق له مخې چې امریکایي جنرال ګیري شرون دا هر څه په خپل هغه کتاب کې چې (FIRST IN) نومېږي او د لاهور منګل له خوا چې ښایي کوم مستعار نوم وي د ((سي آی اې په پنجشیر کې)) په نامه په پښتو ژبه ژباړل شوی، رسوا کړي پر کابل د راننوتو زمینه برابره کړه.

استاد رباني مرحوم د یوې لنډې مودې له پاره ولسمشر پاتې شو او وریسې په همدې ۲۰۰۱ کې د بن د لومړی کنفرانس تابیا وشوه، دې غونډې ته څلور جرګې وروبلل شوې چې د دولت، پېښور، قبرس او روم د جرګو په نامه یادې شوې، دغو جرګو یوې هم کومه قانوني بڼه نه درلوده او نه یې د افغان ولس استازیتوب کولای شوای. د روم په غونډه کې استاد رباني حذف کړای شو او ددې خبرې تنګه تر ټولو دمخه دهغه خپلو ملګرو او د خپل تنظیم کسانو وکړه او په تلفون یې ورته وویل چې ته نور سپین ږیری شوی یې او ستا وخت نور تیر دی. په غونډه کې قیادت د روم جرګې ته ورکړل شو، د روم جرګه والو استاد عبدالستار سیرت په یوولسو رایو انتخاب کړ، دهغه په مقابل کې حامد کرزی دوه او هدایت امین ارسلا یوه رایه وړی وه چې په غالب ګومان خپله رایه به یې وه. کرزي په دې غونډه کې حضور نه درلود؛ خو د امریکا استازي ډاکټر زلمي خلیلزاد پر استاد سیرت فشار راوړ چې استعفی وکړي؛ ځکه د امریکا انتخاب دهغو دلایلو په وجه چې له امریکا سره دی، ((حامد کرزی)) دی، حامد کرزي هم له بي بي سي سره په یوه مرکه کې وویل چې په ډېر ویاړ سره دا مسؤولیت مني او دا یې د ځان له پاره ویاړ وباله.

دلته کورو چې په درسته نړۍ کې د دموکراسۍ مدعي امریکا، پخپله د دموکراسۍ پر خېټه پښه کېښوده، انتخاب شوی استاد سیرت یې په زور استعفی ته اړ یوست او غایب حامد کرزی یې د موقتې دورې د مشر په توګه وټاکه چې دا دی اوس یې د واک دولس کاله پوره کېدو ته نژدې دي. ددې ترڅنګ یې له افغانستان سره بل لوی خیانت دا وکړ چې واک یې پر قومي بنیادونو ووېشه او په افغانستان کې یې د قومي تربګنیو تاداو کېښود او زموږ ملي وحدت یې عمداً زیانمن کړ.

حامد کرزی کابل ته راغی، استاد رباني له بدې ورځې په نه زړه واک وروسپاره او دا د افغانستان په معاصر تاریخ کې له ټولو ملاحظاتو سره سره یوه نادره پېښه وه، حامد کرزی شپږ میاشتې د لنډ مهالې او یونیم کال د منځمهالې اداري مشر پاتې شو او دا دوه پنځه کلنې دورې د منتخب ولسمشر په توګه چې دوهمه انتخابي دوره یې هم مخ په پوره کېدو ده.

د کرزي د واکمنۍ په دوره کې یو لړ و ډېر عمراني کارونه خو وشول خو د یوه داسې ولسمشر په توګه چې نړیواله ټولنه یې تر شا وه، نظامي او اقتصادي مرستې ورسره کېدې او سیاسي ملاتړ یې کېده دهغه دوره یوه کامیابه دوره نه شو ګڼلای ددې څو دلیله کېدا شي:

۱- افغانستان لږ تر لږه دوه نیمې لسیزې جنګ او بحران شاته پرېښی و، په دې موده کې په افغانستان کې ډېرې خرابۍ شوې وې، په اجتماعي تعاملاتو کې ډېر بدلون راغلی و او دې ته ورته نور مسایل.

۲- حامد کرزی که څه هم یو زده کړی (تعلیمیافته) سړی و څه ناڅه سیاسي پوهه یې هم ضرور لرله؛ خو هغه د دولتداری تجربه نه لرله، او دې حقیقت ته هسې په یوه سرسري نظر کتل نه دي په کار. کرزی د افغان ولس په ټولنپوهنه (جامعه شناسی) او ارواپوهنه (روانشناسی) لکه چې لازم و، نه پوهېده او که نه؛ هغه به هېڅکله هم له یوې چینې او قره قل سره پر عبدالرحمن خاني ارګ نه وای ورننوتی او هغه هم په داسې حال کې چې ده به هر څه له صفر نه شروع کول؛ نه ملي اردو موجوده وه، نه ملي پولیس او نه استخبارات، کرزي په لوی لاس ځان دهغو قوتونو رحم و کرم ته وسپاره او ړوند اعتمادي پرې وکړ چې هغوی غوښتل کرزی هسې یو سمبول وي او نور واک ددوی په لاس کې وي. متأسفانه کرزي تر پایه پورې د یوه ولسمشر په توګه ځان له دغې تنګسې نه ونه ایستلای شوای، هغه ځان پر دې اړ ولید چې لوی لوی ملي القاب زیاتره همدغو کسانو ته ورکړي چې ده یې په ګلابندی کې شپې کولې، او دا یوه لویه بې انصافي او د افغاني ټولنې له عیني واقعیتونو نه سترګې پټول وو. خو د کرزي له ټولو حاتمانه سخاوتونو سره سره هغوی د کرزي خپل نه شول؛ البته دومره یې خپل وو چې کرزی هر ډول امتیازات دهغوی په جُولۍ کې وراچول، تاسې ددغو کسانو پروني او نني دریځ سره پرتله کړئ، پخپله به درته څرګنده شي چې حقیقت څه دی.

۳- له افغان ولس سره د نړیوالې ټولنې چلند کاملاً منافقانه و، امریکا او ناټو نه غوښتل چې افغانستان ته سوله او ثبات راوګرځي. جنګ ختم شي او افغانستان د بیارغاونې چارې پیل کړي، د بن په غونډه کې یې عمداً یو شمېر قوتونه له واکه بهر پرېښوول، دا ددې له پاره چې باید په افغانستان کې د جنګ امکانات ختم نه شي. د ۲۰۰۴ کال په شروع کې امریکا او سیمه ییزو ملګرو یې هغه د لږې مودې له پاره د جنګ غلی شوی اور بیرته تازه کړ او دا دی د ورځې په تېرېدو سره زور اخلي. دا جنګ له بهرنې مالي، اقتصادي، استخباراتي، لوژستیکي او نورو مرستو پرته ممکن نه دی.

امریکا د همدې له پاره افغانستان په مخمصه کې وساته او پر خپلو پښو ودرېدو ته یې پرېنښود، چې په هره مرحله کې په ډېرې اسانۍ سره پرې خپله خوښه ومنلای شي. دا دی اوس یې په افغانستان کې د نظامي اډو خبره ده او دا اډې هم په داسې بڼه غواړي چې د کوریا، جاپان، او جرمني په څېر خو لاپرېږده چې افغانستان ته په ډېر لږ امتیاز هم قایل نه دي لکه چې د بارک اوباما او حامد کرزي په وروستي ویډیو یې کنفرانس کې هر څه په ډاګه شول، کرزي ته یې ښکاره وویل چې که له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک نه کړي په هغسې حالت کې به یې پرېږدي چې عراق یې پرېښود؛ خو افغانستان اوس هم له عراقه کم نه دی، هره ورځ د بېګناه خلکو وینې بهول کېږي. امریکا چې په سیمه کې کومې پراخې ستراتیژیکې موخې لري، او دې موخو ته د رسېدو له پاره کمزوری او مجبور افغانستان استعمالول غواړي، دا هغه سناریو ده چې بیانول یې کتابونه غواړي خو اوس دا خبرې نه د افغانانو له نظره پټې دي، او نه د سیمې د هېوادو له نظره. امریکا پر ځان سربیره، خپل سیمه ییز انډیوالان هم د بیوزلي افغانستان پر اوږو بار کړي دي، خدای خبر چې افغانان به د امریکا له لاسه نورې څه بدې ورځې ګوري او هغه هم په داسې حال کې چې د یوه نامعلوم مستقبل له پاره یې په افغانستان کې د حضور مشروعیت هم د یوه امنیتي تړون په لاسلیک سره تسجیل شي. افغانستان یو ځل بیا متأسفانه په هغه حالت کې واقع دی چې په نولسمه او د شلمې پېړۍ په پیل کې و او هغه د پان او پړانګ ترمنځ د واقع کېدو حالت دی. هغه عنعنوي لویه جرګه چې د امنیتي تړون په اړه د نظر پوښتنې له پاره راغوښتل کېږي، ډېر ستر مسؤولیت لري ددې جرګې غړي باید په پټو سترګو دې جرګې ته لاړ نه شي، او هسې د حافظ غونډآری وارنه کړي؛ ځکه د سبانیو پېښو پړه به بیا یواځې د حامد کرزي پر ولیو نه بلکې له هغه سره ددې جرګې د هر غړي پر ولیو وي، هیله ده دا جرګه لکه دولت چې وایي، یواځې او یواځې د امنیتي تړون په اړه د نظر پوښتنې له پاره وي، نه دهغو ګونګوسو د تحقق له پاره لکه دا اوس چې د خلکو په خولو دي.

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
Email: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

توصیه های رمضانی

نوشته محمد رمضان / ترجمه عبدالخالق احسان



رمضان مثل ماه های دیگر سال نیست؛ بلکه نسیم خدایی و جرعه ایمانی است، کسی کـه رمضـان را دریافت و آمرزیده نشد، زیان کرده و خـوار شـده است؛ به این خاطر بود که صحابه رضی الله عنهم این دعا را زیاد تکرار می کردند: پروردگارا ما را به رمضان برسان.

برادر گرامی! برخی توصیه های رمضانی را برای تو، خانواده ات و هرکسی که مسؤولیت آن بـه عـهـده توست؛ پیشکش می کنم؛ به ذهنت بسپار که این هـا کم اند و از تلاش بیشتر خود را محروم نساز.

۱- مشغولیت زندگی را کم نما و اگر چاره نداشتـی، تمام امور ضروری را در اول رمضان انجام بده و برخی امور غیر ضروری و غیر عاجل را به بعد از رمضـان واگذار کن.

۲- از مظاهر راحت طلبی و خوشگذرانی و از خواب زیاد که فضایی عبادت رمضانی را فاسد مـی کـنـد، دوری گزین! لذا کانال های... و... و... را نگاه نـکـن و روزنامه و مجله ها را زیاد مخوان.

۳- محیط خانه و محل کار را مناسب بـا رمضـان آماده ساز!)قرآنکریم، مسواک، کتابی در مورد زهـد، جریده دیواری مربوط به رمضان، ...(را تهیه کـن و تصمیم بگیر که معانی قرآن را بیاموزی و خـود را مطمئن ساز که که هریک از افراد خانـواده «قـرآن کریم» برای تلاوت دارند.

۴- کمبودی های شخصی خود را که جز خـداونـد متعال کسی نمی داند، مشخص نموده و راه های مداوا و رهایی از آن ها را جستجو کن و برایت بـنـویـس! بـزودی ازین صفت ناشایست خود را رهایـی مـی دهم.

۵- صفاتی را که آرزو داری به آن آراسته بشـوی، معین نموده و گامها و وسایل آراستگی به آن ها را یاد داشت کن! و بنویس: که به زودی به این صفت نیکـو آراسته می شوم و ازین وسیله بهره می گیرم.

۶- به اخلاق مؤمنین خود را بیارای از قـبـیـل: فروهشتن چشم، حفظ زبان، دوری از غیبت و سخـن چینی، سپردن امانت ها به اهل آن و پرداخت قرضها. و احادیثی که درین خصوص وارد شده، حفظ نموده و الگوی نیکی برای دیگران باشید.

۷- بسیار حریص باش که پیوند خویشـاونـدی را استحکام ببخشی و خصومت، بغض و کینه را تـرک کن؛ چون این امور دین را می تراشد و اعمال را حبطه می سازد. لذا به دیدار فلانی برو و از فلانی مـعـذرت بخواه و فلانی را ببخش.

۸- تلاش کن بین خودت و پروردگارت سـری در عبادت مشخص کنی و اعمالی را انجام دهی که تـرا بخدایت نزدیک نموده و دروازه های بسته به رویـت باز گردد. درین خصوص داستان آن سه مرد را به یـاد آور که وارد غاری شده و دروازه غار بسته شـد و آنها به فضل اعمال نیک و پنهانی خویـش نـجـات یافتند.

۹- تلاش نما! روزانه سه جزء از قرآنکریم تـلاوت کنی: یک جزء در مسجد، یک جزء در محل کار اگـر ممکن بود و یک جزء درشب. و نیز حریص بـاش بـه خواندن اذکار و اورادی که از رسول الله صلی الله علیه وسلم در تمام امور زندگی روایت شده است.

۱۰- قیام شب عزت مؤمن، توشه صالحان، توانایـی دعوتگران راستین و نوری از جانب پروردگار جهانیان می باشد؛ لذا قبل از صبح بیدار شده و فامیـلـت را بیدار نموده و باهم نماز بخوانید.

۱۱- به اعمال نیکو و برآوردن حاجت بیـوه زنـان، یتیمان و مساکین مشارکت کن! اما مواظب باش که از بهره گیری و استفاده شخصی از رمضـان مـحـروم نشوی.

۱۲- این که در مظهر و جوهر و تمام امور زنـدگـی ات، گرایش دینی را نهادینه بسازی و احـکـام روزه، اعتکاف، تراویح و زکات را آموخته و تمام امورت را به مسجد ربط بده. لذا هفته یک باب از کتاب فقه السنة را همراه دوستانت بخوان.

۱۳- برای اعتکاف در مسجد بکوش و حد اقل شب های دهه اخیر رمضان را به صورت فردی به اعتکـاف بنشین.

۱۴- ماه رمضان خاکی حاصلخیزی بـرای دعـوت مردم و امر به معروف و نهی از منکر می باشد؛ لذا این فرصت دعوتی را از دست ندهید.

۱۵- به ادای صدقه فطر و کثرت صدقات حـریـص باش تا تکافل اجتماعی و کمک به برادران محتاجـت را متحقق سازی، بدین منظور احادیـثـی کـه بـر سخاوتمندی و کرم فرا می خواند، مطالعه کن تـا از بخل و خست رهایی یابی.

۱۶- در ماه رمضان برایت شعاری بنویس و در خانه ات آویزان نما، تا خود را به آن ملزم بداری.

۱۷- یک فرصتی ایمانی را با خانواده ات سپری کن که از رمضان آغاز گرد[illegible]د و در طول سال ادامه یابد.

۱۸- برای شرکت در [illegible]جالس علم و هم صحبتی بـا نیکان بکوش؛ چون [illegible] را بر طاعت خداوند کمک مـی کنند. در مشاهده تلویزیون زیاده روی نکن؛ اگر چـه برنامه های هدفمـ[illegible] باشد.

۱۸- برادران خود در فلسطین و سوریه و بـرمـا و ... از دعای خیر در اوقات نیک فراموش نکن؛ پس روزانه برای شان دعا نموده و امام مسجد را تـذکـر بده و اخبار شان را تعقیب کرده و به دیگران انتقال بده.

۱۹- آمادگی درستی به عید بگیرید و آداب خوشی و سرور را از رسول الله صلی الله علیه وسلم بیاموزید.

زموږ د پیاوړتیا راز

محمد خلیل

د یو هېواد اوسېدونکو لپاره تر ټولو بنسټیزه او اساسي خبره داده چې هغوی ټول د خپل هېواد او ولس مینه په زړه کې ولري او په هر حالت کې لومړی غوښتنه او ارمان یې دا وي چې خپل ټول استعداد آن خپل سر او مال د همدې هدف او مقصد لپاره په کار واچوي، ګویا هغوی ته خپله عقیده خپله خاوره. خپل استقلال او خپل پت له بل هر څه مقدم وي، په هېڅصورت کې ددې په سر سودا بازي کولو ته چمتو نه وي، خپل هېواد په واقعي معنی خپل ناموس ګڼي او ددې ساتنه خپل اصلي هدف

کله چې د یو هېواد په وګړو کې دا مشترک صفت موجود وي او ټول د همدغه هدف د تحقق لپاره کار کوي نو بیا هېڅ دلیل نشته چې پخپلو کې سره دومره وېاشل شي چې آن د یو بل د ختمولو لپاره ټوپک ته لاس کړي له یو بل څخه کرکه وکړي او د یو بل په خلاف متضاد دریځونه خپل کړي.

له خاورې او د خاورې له بچیانو سره واقعي مینه هغه بنیادي او مرکزي اصل دی چې د یو هېواد وګړي کله هم پخپلو کې ددښمنۍ فکر پیدا کولو ته نه پرېږدي. بلکې دیته یې اړ باسي چې یو بل ته د مرستې لاسونه ورکړي د خپل هېواد او ولس د خیر ښېګړې په خاطر له یو بل سره خپلې مشورې شریکې کړي او بیا په یوه خوله هغه پلانونه په ګډه پلې کړي چې د هېواد او ولس په ګټه وي، خو کله چې له خپلې خاورې، ولس او کلتور سره د مینې دغه ریښې کمزورې او پرځای د شخصي ګټو ریښې مزبوتې شي نو بیا د یو مشترک هدف د تیت او پاشان کېدو له کبله په وګړو کې هم د بې اتفاقۍ خطرناکه ناروغۍ وده کوي، هر څوک د خپل ځان په غم کې اخته کېږي او اجتماعي فکر کډه کوي، د ملي فکر او ملي احساس پرځای د توکمیز او انفرادي فکر ریښې غزېږي او هېوادوال بالاخر خپل ملي یووالې، ملي احساس او ملي مسؤولیت له لاسه ورکوي، داسې حالت ډېره خطرناکه بڼه خپلوي، د هېواد دښمنان دهغوی له دې کمزورتیاو نه ناوړه ګټه اوچتوي او په کلاره کلاره د ژوند ساه ترینه وباسي او د مرګ کومې ته یې ورتیل وهي.

که موږ افغانان پر خپلو تېرو او فعلي ستونزو عاقلانه فکر وکړو او هغو علتونو ته متوجه شو چې له ډېرې مودې نه ورسره لاس او ګرېوان یو نو وبه مومو چې زموږ اصلي ناروغي همداده چې له خپلې خاورې، ولس او فرهنګ سره د مینې جذبه کمزورې شوې، د ملي احساس، ملي یووالې او ملي شعور اجتماعي محور مو له لاسه ورکړی، همدا لامل دی چې د یو شعار، یو دریځ او یو غږ پرځای ګڼ دریځونه او ګڼ شعارونه مخې ته راغلي، تر اوسه پورې په دې نه یو توانیدلي چې آن پخپلو ملي مسئلو کې ملي دریځ اعلان کړو، ټول په ګډه خپل دښمن مشخص او تعریف کړو، دهغوی په وړاندې ګډ صف ونیسو او په هر ډګر کې په یو اتفاق مؤثرې دفاع ته یې ملا وتړو

له بده مرغه تراوسه زموږ قربانۍ او سربښندنې یو لورې او یو محور نه لري، د هر چا قرباني جلا جلا خایونه او تعریفونه لري او هر څوک خپل جنګ ته جهاد وایې

په هېواد کې دننه ګڼ ګوندونه او تنظیمونه یواځې د خپل ګوند او د خپل قوم ګټې اصلي خدمت ګڼي او هر یو په دې کوښښ کې دي چې یوازې خپل توکم او خپل ګوند پیاوړی کړي، همدا لامل دی چې افغانان د یو ګام مخکې کېدو پرځای نور هم په شا درومي او هغه بنیادي او مرکزي هدف ته نشي رسیدلې چې د ټولو افغانانو ګډ ضرورت دی چې د افغانستان استقلال. استحکام، ملي یووالې او ملي پخولاینه ده. په پارلمان کې ناست د افغانستان د ټولو کمونو استازي حضور لري په ملي او ټولنیزو مسایلو بحثونه کوي خو تراوسه پورې په یوه ملي ایجنډا او ملي دریځ نه متفق کېږي کله کله خو ددوی ترمنځ اختلافات او ناندرۍ دومره سختې شي چې پر یو بل د سوکانو، بوټانو او بوتلو ګوزارونه کوي، او پر یو بل د پردیو ایجنټ او ملي خاین تورونه لګوي که چېرته په پارلمان کې ناست استازي هم په پارلمان کې د هېواد د ملي وحدت په تأمین کې پاتې راشي او خپل ولس ته یو مشترک دریځ له ورکولو نه عاجز وي نو داسې یو هېواد څنګه کولې شي خپل ملت او خپله خاوره د پردیو له شومو اغراضو څخه وساتي. پرمختګ وکړي او د نورو له محتاجیو څخه خانونه وژغورې، که موږ د افغانستان وګړي واقعاً له خپلې خاورې، ولس، کلتور او استقلال سره مینه لرو لدې پرته بله لاره پرمخ نه لرو.

چې نور د پردیو د سحر او جادو له اثره خانونه خلاص کړو، هغه واقعیتونه وپېژنو چې د افغانستان د خاورې او مسلمان ولس ګټې پکې خوندي دي. ددې پرځای چې خپلو شخصي او ګوندي ګټو ته لومړیتوب ورکړو د خپل هېواد او ولس اجتماعي ګټو ته ژمن شو او په ګډه له خپلې خاورې او ملت سره د مینې ثبوت وړاندې کړو، تر څو ګړندی برې مو په نصیب او د تباهۍ له موجوده ګرداب نه خلاصون بیامومو.

دغه رنگه مو ناسي فوره امت گرځولي پاست چي پر خلکو گواهان اوسئ
اونیزه
شهادت
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

طالب مشران هم نه پوهېږي چې څه روان دي

موسم په نیمایي کې په جگړو اخته دي، په دې وروستیو کې په مرکو کې ویلي چې؛ دوی هم نه پوهیږي چې څه روان دي.
د افغانستان په جنوب لویدیځ پکتیا ولایت کې د جگړې په ډگر کې د طالبانو د منځنی سطحې قومندان وایي؛ دوی نه پوهیږي چې، مشران یې څه کوي، ځکه دوی په دې اړه ډېرې اوازې اوري.
د والستریټ ژورنال په وینا، په لوگر ولایت کې د طالبانو یوه بل قومندان هم ورته خبره کړې او ویلي یې دي چې، که موږ غواړو سوله وکړو، نو د څه لپاره جنگیږو.
بریتانوی ټایمز ورځپاڼې بیا د افغانستان د بیارغونې په اړه په یوه مطلب کې لیکلي، امریکا د خپلې نړیوالې پراختیایې ادارې "یو. ایس. ایډ" له لارې غوښتل د سړک جوړونې هغې مهمې پروژې په عملي کولو سره د خلکو زړونه لاس ته راوړي چې؛ گردیز له خوست سره نښلوي او د حقاني شبکې د قدرت ترمرکزه غزیږي.
خو شپږ کاله وروسته چې د دغې پروژې لگښت درې چنده زیات شوی او ۲۳۰ میلیون ډالرو ته رسیدلی، تراوسه یې یواځې څه بالدې له دریو یوه برخه بشپړه شوې ده.
د ورځپاڼې په وینا، په افغانستان کې اداري فساد او د لویدیځ بې هدفه هڅوته پام سره د دغې پروژې په تطبیق کې ځنډ او د لگښتونو زیاتوالي له تا امنیو سره هم تړلی دی.
د سړک جوړونې پر کارکوونکو د وسله والو له خوا حملې شوې؛ په ځینو مواردو کې سیمه ییزو جگړه مارانو ته پیسې ورکول شوې چې؛ دې ټولو کارونه لاخراب کړي دي.
ټایمز لیکي، د افغانستان د فواید عامې وزیر نجیب اله اوژن د "یو. ایس. ایډ" پرهغې پریکړې انتقاد کړی چې؛ د دغې پروژې قرارداد یې امریکایې کمپنیو ته ورکړی؛ خو هغوی یې کارونه نورو قراردادیانو ته ورکړي دي. اوژن وایي، دوی له بانکي تضمین او بکسونو سره راغلل او هغو کمپنیو ته یې کارونه ورکړل؛ چې ترټولو ارزانه وي.

امریکایي والستریټ ژورنال ورځپاڼه په افغانستان کې د سولې په اړه په یوه مطلب کې لیکي؛ د جون په نیمایي کې چې طالبانو په قطر کې د سولې د خبرو لپاره سیاسي دفتر پرانیست، دا هیلې زیاتې شوې، چې د دې هیواد جگړه به چې یوه لسیزه پرې اوښتې؛ د خبرو اترو له لارې پای ته ورسیږي.
خو دغه هیلې ډېر ژر وروسته تردې چې افغان ولسمشر حامد کرزي سخت عکس العمل ونبود؛ مړاوې شوې. کرزي د طالبانو له لورې د اسلامي امارت د بیرغ اوچتولو او لوحې لگولو پر وړاندې د اعتراض په توگه د سولې په خبرو کې د خپل حکومت د پلاوي د نه گډون خبره وکړه.
د والستریټ ژورنال په وینا، له هغه مهال راهیسې په دوحه کې د طالبانو استازي په خوله پاتې دي چې؛ دې کار د کابل او واشنگټن له چارواکو سره په دې اړه چې ایا د سولې په تړه دریدلې پروسه به بیرته راژوندۍ شي که نه گونگوسیو ته لاره هواره کړې ده.
ورځپاڼه لیکي، د طالبانو قومندانانو چې په افغانستان کې د جگړې د

امریکا تر اوسه د امنیت او خپلو ...

د جمهور ریس د دفتر مشر عبدالکریم خرم تېر ازادي راډیو ته وویل، ترڅو چې دوی په دې برخه کې ډاډ ترلاسه نه کړي له امریکا سره به امنیتي سند لاسلیک نه کړي.
افغان حکومت له امریکا سره د امنیتي سند په اړه خلورم پړاو خبرې ددې لپاره هم ځنډولې چې ویلي یې دي، د افغانستان د سولې په اړه د امریکا په خبرو او عمل کې توپیر موجود دی.
د جمهوري ریاست چارواکي وایي، له امریکا سره به د امنیتي سند په اړه هغه وخت له سره خبرې پیل کړي چې دا هیواد د افغانستان شرایطو ته غاړه کیږدي.
د جمهور ریس د دفتر مشر کریم خرم وایي، چې د افغانستان اساسي شرطونه د امنیت ټینگښت او د اقتصادي مرستو دوام دی، خو په خبره یې امریکا تراوسه په دې برخه کې ضمانت نه دی ورکړی.
ښاغلي خرم د سه شنبې په ورځ ازادي راډیو ته په یوه ځانگړې مرکه کې وویل، چې ددې سند په اړه د دوی شرایط د راتلونکي نسل په برخه لیکل پورې تړلې موضوع ده.
"د مالي مسایلو په اړه یې موږ ته ویلي، چې موږ ضمانت نه شو کولای، د امنیتي مسایلو په اړه یې ویلي، چې موږ ضمانت نه شو کولای، نو کله چې داسې ضمانتونه نه وي، یا نو داسې یو څه د افغانستان د خلکو په نماینده گۍ امضا کول چې هغه به زموږ اینده نسلونو باندې هم اثرات ولري ، دا فکر نه کوم چې افغانان حکومت ته مشوره ورکړي."
افغانستان د ۲۰۱۲ کال په مې میاشت کې له امریکا سره د ستراتیژیکو اړیکو سند لاسلیک کړ او له همغې مودې را په دې خوا د دواړو هیوادونو مرکچیانو خلور څله د امنیتي سند په اړه هم خبرې کړي دي.
افغان حکومت شاوخوا یوه میاشت وړاندې له امریکا سره ددې سند په اړه خلورم پړاو خبرې ددې لپاره ځنډولې چې ویل یې، د سولې په اړه د امریکا په خبرو او عمل کې توپیر موجود دی.
خو د جمهوري ریاست چارواکي وایي، امریکا باید ددې سند د لاسلیک په مقابل کې افغانستان ته ډاډ ورکړي چې امنیت به یې خوندي او د

گاونډیو هیوادونو د لاسوهنو څخه به په امان کې وي.
د جمهور ریس د دفتر مشر کریم خرم وایي، ترڅو چې په گاونډیو هیوادونو کې د ترهگرو خالي له منځه ولاړې نه شي او د هیواد په سرحدي سیمو راکټي حملې بندې نه شي، له امریکا سره د امنیتي سند لاسلیک هیڅ معنی نه لري.
"موږ له امریکا سره امنیتي سند ددې لپاره لاسلیکوو، چې له بهر څخه پرموږ حمله ونه شي او د هیواد دننه د افغانانو امنیت ټینگ شي.
کله چې په موږ باندې له بهر څخه راکټونه راځي او له بهر څخه ځان وژونکي او بمونه رالیږل کیږي او په وسیله یې افغانان وژل کیږي، بیا نو امنیتي سند موږ ته څه په درد خوري."
که څه هم ښاغلي خرم به دې برخه کې د کوم ځانگړي هیواد نوم وانه خیست، خو افغان حکومت له دې وړاندې پاکستان په دې تورن کړی چې د ترهگرو ملاتړ کوي.
له دې وړاندې ولسمشر حامد کرزي وویلي و، چې امریکا غواړي په دریو میاشتو کې امنیتي تړون لاسلیک شي خو دوی یې لاسلیک کیدو ته بیړه نه لري.
افغان چارواکو دا احتمال هم نه دی رد کړی چې ښایي د جمهور ریس حامد کرزي په مشرۍ اوسنی حکومت له امریکا سره ددې تړون پر سر موافقې ته ونه رسیږي او دا کار راتلونکي حکومت ته پاتې شي.

کمیته مستقل کانکور ایجاد...

تاکید می کنم نه روی لایحه که در حال حاضر وجود دارد."
به اساس طرح جدیدی که وزارت تحصیلات عالی برای کانکور تهیه کرده پس از این کانکور به پوهنتون های کشور، مطابق به سهمیه بندی در سطح ولایات و حوزه ها اخذ می گردد. همچنان در این طرح بالاتر از شصت و پنج درصد بودن اوسط نمرات سه ساله فارغان مکاتب شرط شمولیت در کانکور دانسته شده است.
طرح این مساله از سوی تحصیلات عالی افغانستان با واکنش های منفی تعداد زیادی از محصلین، فارغان مکاتب و برخی نهاد ها مواجه شده است. آنان این طرح را خلاف قانون اساسی افغانستان خوانده و در مغایرت با موازین و معیار های حقوق بشری عنوان کردند. زیرا به گفته آنان این طرح دسترسی همسان اتباع کشور به تحصیلات عالی را محدود می سازد.
اما وزارت تحصیلات عالی هدف این طرح را دسترسی متوازن تمام ولایات به تحصیلات عالی و نیمه عالی، تامین شفافیت و عدالت در پروسه کانکور و راه بیرون رفت از مشکلات موجود در این زمینه خوانده است. در عین حال اتحادیه استادان پوهنتون های افغانستان خواهان تصویب هرچه زودتر قانون تحصیلات عالی شد.
تاج محمد اکبر رییس این اتحادیه گفت:
"تصویب قانون تحصیلات عالی یکی از موضوعات مهم است زیرا نهادی که قانون نداشته باشد می توانیم بگوییم که باید در آن بی قانونی صورت بگیرد. قانونی نداریم که مطابق قانون جدید عمل کنیم و قانون قبلی از چندین دهه قبل باقی مانده است، هنگامی که می گوییم نظام جدید پس در این صورت باید قوانین، لوایح و مقررات به اساس نیاز ها تجدید شود زیرا مسایل در حال تغیر اند ما نمی توانیم مطابق لایحه های چند دهه پیش عمل کنیم."
طرح قانون تحصیلات عالی از چندین سال بدینسو در شورای ملی کشور جهت تصویب بسر می برد.
حدود یک ماه قبل ولسی جرگه افغانستان این قانون را به بحث گرفت، اما اختلاف نظر ها بر سر انتخاب واژه های چون پوهنتون و دانشگاه سبب گردیده تا تصویب این قانون به تاخیر بی افتد.
برخی از آگاهان امور انتقاد می کنند که اعضای شورای ملی به جای توجه به مسایل مهم و بلند بردن ظرفیت ها در تحصیلات عالی به مسایل کوچک و کم اهمیت توجه می کنند.

جرگۀ عنعنوی برای حل مشکلات ...

در مجالس لویه جرگه اشتراک کنند.
این درحالی است که انتخابات شوراهای ولسوالی ها در افغانستان برگزار نشده و حالا این شوراها وجود ندارند و از همین دلیل، لویه جرگه هم برگزار شده نمی تواند.
اما گل احمد اعظمی مردم ولایت فراه در مشرانوجرگه، امروز در مجلس عمومی مشرانوجرگه گفت که امکان دارد جرگۀ عنعنوی برای حل مشکلات دایر گردد.
وی افزود که در گذشته ها نیز جرگه های عنعنوی، به هدف حل مشکلات افغانستان دایر می گردید و حالا نیز این کار ممکن است.
وی افزود: "حالات ما با گذشت هر روز خراب میشود و اگر در این جرگه، در مورد تامین امنیت و منافع ملی افغانستان صحبت شود، نتیجۀ بسیار خوب را در پی خواهد داشت."
وی تاکید کرد که سند امنیتی میان افغانستان و امریکا، باید به هدف تامین منافع ملی و تامین امنیت افغانستان امضا شود.
حکومت افغانستان بعد از آن مذاکرات خود در مورد سند امنیتی با امریکا را به تعویق انداخت که ماه گذشته دفتر طالبان در قطر گشایش یافت و حکومت افغانستان گفت که این دفتر، خلاف موافقه هایی که میان افغانستان و امریکا صورت گرفته بود، میباشد.
محمد امین حمیدی نمایندۀ غزنی در مشرانوجرگه نیز گفت: "افغانستان تنها به کابل خلاصه نمی شود، حالات امنیتی در سراسر کشور خراب شده است، باید جرگۀ عنعنوی برای حل این مشکلات دایر شود."
فریده کوچی نمایندۀ کوچی ها در این جرگه گفت: "مه ای جرگه را که رییس جمهور دایر میکنه، منظور میکنم؛ همه مردم شورای ولایتی، شورای ولسوالی، شورای شاروالی و شورای قریه جات باید خواسته شوند تا جرگۀ خوب دایر گردد؛ مه این جرگۀ عنعنوی را تایید میکنم، قبول میکنم؛ مه بطور آشکار میگویم که مه این سخن را منظور میکنم."
اما شمار دیگری از اعضا، با این نظر مخالفت کردند.
عبدالوهاب عرفان نمایندۀ تخار در مشرانوجرگه گفت که کدام کلمه ای در مورد جرگۀ عنعنوی در قانون اساسی ذکر نشده است و دایر شدن همچو جرگه، در مغایرت با قانون قرار دارد.
وی افزود: "دایر شدن جرگۀ عنعنوی در موجودیت شورای ملی، یک عمل خلاف ارادۀ مردم و قانون است."
به گفتۀ وی، اگر حکومت میخواهد که نظر مردم را در مورد سند استراتیژیک میان افغانستان و امریکا بگیرد، باید با شورای ملی مشوره کند.

از وسایل برقی دورتر ...

دومتر با بستر خواب فاصله داشته باشد.
کاکړ گفت که انعکاس اشعۀ وسایل یادشده بر ماده ای به نام "پاینل گلند" که در مغز انسان موجود است و از آن هورمون "میلاتونین" ترشح می شود، تاثیر منفی گذاشته و سبب بی خوابی شخص می گردد.
وی علاوه کرد که بی خوابی؛ باعث ضعف حافظه، عصبانیت، کسالت و پایین آمدن مقاومت وجود در برابر امراض ساری می شود.
موصوف خواب را برای حفظ صحت، یک ضرورت مبرم دانسته گفت که اشخاص بالغ در ۲۴ ساعت، به ۶ تا ۸ ساعت خواب ضرورت دارند.
اما کاکړ خاطرنشان کرد که مادران حامله در ۲۴ ساعت، به ۹ ساعت خواب نیاز دارند.
وی افزود که در ۲۴ ساعت؛ نوجوانان به ۹ ساعت، اطفال سه الی پنج سال به ۱۲ ساعت، و نوزادان به ۱۸ ساعت خواب نیاز دارند.
مشاور صحی رییس جمهور گفت: "بدن در حالت خواب، شکست و ریخت حجرات خود را ترمیم نموده و اعادۀ انرژی می کند."

تر هغو د سولې خبرې نه شي ...

هغه قومندانان چې د دوحې په بلډینگونو کې ناست دي د قتلونو مسوولیت په غاړه لري. دوی سیاسي او مالي ملاتړ ترلاسه کوي. دا د نړیوالو قوانینو خلاف کار دی. دا د ملگروملتو د منشور خلاف دی. څرنگه کیدای شي چې یو حکومت د هغو ترهگرو ملاتړ وکړي چې هغوی خلک وژني. دوی دا مسله څرنگه توجیه کوي؟"
قاسمیار همدارنگه لیکلي او کړ "خبرې تر هغو نه شي پیلیدای چې دوی وژني بس نه کړي."
که څه هم ډیلي ټیلگراف ورځپاڼې د افغانستان د حکومت د یوه چارواکي دا څرگندونې د طالبانو له لورې د بیرغ او د اسلامي امارت د لوحې په وړاندې د افغانستان غبرگون بللی دی خو د خبرو مطلب په هیڅ صورت دا نه و چې دواړې خواوې به جگړه هم بس کوي.
په قطر کې د طالبانو دفتر به دې هدف پرانستل شو چې په هغه کې د جگړې د بس کولو پر لارو چارو خبرې وشي.

د ټاپي له پروژې به افغانستان ...

د دې تړون له لاسلیک سره د دې پروژې د عملي چارو د پیلیدو لور ته یو مهم گام واخیستل شو. دغه پروژه جاري به، چې د ترکمنستان گاز د افغانستان له لارې پاکستان اوبیا هند ته لیږدوي عملا پیل شي.
د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت څرگندونه کړه چې د شوي تړون له مخې به د ترکمنستان گاز د دیرش کلونو په مخه تر هند پورې د افغانستان له لارې ځي.
د تړون له مخې به افغانستان ته په لومړیو لسو کلونو کې پنځه سوه میلیونه کیوبیک متره گاز ورکوي بیا به په دوهمو لسو او دریمې لسیزې کې دغه اندازه یو اعشاریه پنځه بلیونه کیوبیک مترو ته هر کال ورسیږي.
د تیرې اونۍ د عشق اباد په غونډه کې څلور واړه هیوادونو، افغانستان، ترکمنستان، پاکستان او هند موافقه وکړه، چې د اسیا د پرمختیایي بانک په همکارۍ به د ټاپي لمبهد په نوم یو گډ کانسورسیوم د ۲۰۱۳ کال تر پایه جوړوي.
د دې پایپ لاین له تیریدو سره به افغانستان هر کال نژدې پنځه سوه میلیونه ډالر ترلاسه کوي.
د دې پروژې لومړی تړون په ۲۰۱۰ کال کې لاسلیک شوی و، خو په افغانستان کې امنیت یو سترگواښ دی چې د دې تلليکې د تیریدو چارې یې عملا تر اوسه ځنډولې دي.
د سیاسي چارو یو شمیر شنونکي په دې باور دي چې پاکستان انرژۍ ته ډېره اړتیا لري او د دغه هیواد نوي صدراعظم نوازشریف چې ،کله تیره میاشت د صدراعظم په توگه د لوړې مراسم ترسره کړل نو په خپلو خبرو کې یې تر هرڅه پر انرژۍ ډېر ټینگار وکړ. د شنونکو په نظر پاکستان ښایي دې ته اړ شي چې د خپلو خلکو د انرژۍ د کمبود د مخنیوي لپاره د ټاپي په پروژه کې مرسته وکړي، د دغې مرستې لومړی گام به دا وي چې اسلام اباد طالبان د افغانستان په لویدیځ او جنوب لویدیځ کې په هغو ځایونو کې چې د ټاپي د گازو پایپ لاین به تیر شي، له شخړو راگرځوي.
داسې ښکاري چې له ۲۰۱۰ کال راپه دې خوا اسلام اباد به دې برخه کې بولړ هڅې هم کړي دي، کندهار او هلمند چې تر گردو ناکراره ولایتونه وو هلته نسبي امنیت ښه شوی او د هغې خوا په پرتله د افغانستان په ختیځ کې د طالبانو بریدونه ډېر شوي دي.

چرا قیمت دالر بطور بی سابقه ...

به ۵۷ افغانی تبادله می شد که طی یکنیم دهه اخیر بی سابقه عنوان شده است.
سمیع الله فضلی و حشمت الله دو تن از باشندگان کابل در صحبت با رادیو آزادی گفتند که این کار سبب بلند رفتن قیمت مواد خوارکه در بازار های شهر نیز شده است.
"دالر در افغانستان کم شده و هر قدری که خارجی از کشور خارج شود به همان اندازه دالر ازوطن بیرون می شود، قبلاً یک بوجی آرد بود ۱۱۱۱ افغانی حالی به ۱۳۰۰ افغانی در بازار رسیده است."
" روز تا روز مردم بخاطر نگرانی های امنیتی سرمایه های خود و کار و بار خود رابند کرده اند و دوم اینکه ما از خود چیزی نداریم کشور وارداتی هستیم، همه مواد ما از کشور های ایران و پاکستان می آید، وقتی دالر در بازار کم شود واضح است که نرخ افغانی در برابر آن پائین می آید، حالا نرخ مواد خوراکی، البته و همه چیز بلند شده، در هر صورت مردم غریب پایمال می شوند و تدابیر هم از سوی دولت گرفته نمی شود و همه مصروف تجارت خود هستند."
در همین حال برخی از اعضای مشرانوجرگه نیز از بلند رفتن بهای دالر در برابر پول افغانی اظهار نگرانی کرده اند.